


# د رسمیت پېژندنې پر لور ستر ګام...!

که څه هم دوه کاله کېږي، چې افغانستان د غربي ښکېلاکګرو له یرغل څخه ازاد شوی، خپلواک او ځواکمن مرکزي نظام لري او له نړۍ سره د تعامل او اړیکو په برخه کې یې هم پرمختګونه کړي دي؛ خو لکه څرنګه چې پکار ده، نړۍ په دې برخه کې هغسې چټک ګام نه دی پورته کړی او تراوسه پورې د نړۍ هېڅ هیواد هم د افغانستان حاکم نظام په رسمیت نه دی پېژندلی.

په دې برخه کې د نه پرمختګ له لاملونو څخه یو دا دي، چې امریکا او متحدین یې په دې توګه له افغانستان څخه د خپلې ماتې بدل اخلي او دغه راز غواړي، په دې ډول د افغانستان پر فعلي حکومت خپلې غوښتنې ومني،خو اوس داسې ښکاري چې د لویدیځ د فشار سیاست هم ناکام شوي او نړۍ هم دې پایلې ته رسېدلې، چې د فشار له لارې نشي کولی خپلو اهدافو ته ورسېږي.

تازه چین د افغانستان لپاره نوي سفیر ټاکلی او پرون له غرمې وړاندې د افغانستان د اسلامي امارت رئیس الوزرا محترم الحاج «ملامحمدحسن اخند» د نوموړي باورلیک د یو لړ تشریفاتي مراسمو په ترڅ کې ومانه. په ارګ کې په دې مناسبت جوړو شویو مراسموکې، چې د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي هم حضور درلود، محترم رئیس الوزرا د چین نوي سفیر ته ښه راغلاست ووایه. د افغانستان لپاره د چین نوي سفیر په افغانستان کې پر خپل نوي ماموریت خوښي وښوده.

د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته دا لومړی ځل دی، چې یو هیواد د افغانستان لپاره په دغه ډول د سفیر په کچه ستر ډیپلومات ټاکي او هغه هم بیا په نړۍ او په ځانګړي ډول سیمه کې د چین په څېر مهم هیواد، دغه هیواد اوس په سیمه ییز اقتصاد او سیاست کې خورا دخیل دی او هڅه کوي، چې خپل نفوذ او اثر ته لا ډېره وده ورکړي.

د افغانستان د اسلامي امارت لپاره دغه ګام ډېر مهم دی او د رسمیت پېژندنې لپاره د شرائطو په برابرولو کې هم د پام وړ رول لوبولی شي. په دې سره به نور هیوادونه هم وهڅېږي، څو د افغانستان له نوي اسلامي حکومت سره د خپلو ګټو پر محور ولاړې اړیکې ورغوي، هغوي باید ټول عمر د امریکا په غوښتنه او اشاره خپل کورني او بهرني سیاستونه عیارنه کړي او نه خپلې ګټې د لویدیځ له ګټو قرباني کړي.

چین له لومړۍ ورځې پر افغانستان د امریکایي یرغل او سیمه کې د لویدیځو پوځونو له شتون څخه ناراضه و؛ خو د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته یې د افغانستان په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې پالیسۍ ته مخه کړې، په وار وار یې ویلي چې د افغانستان د فعلي حکومت پرېکړو ته درناوي لري او نه غواړي چې زموږ په کورنیو چارو کې مداخله وکړي. دغه راز یاد هیواد افغانستان سره اقتصادي شراکت او په ځانګړي ډول د کانونو د استخراج په برخه کې پانګونې ته لیوال دی او په دې وروستیو کې د چینایي شرکتونو او د افغانستان د اسلامي امارت ترمنځ په بیلابیلو برخو کې ګڼ تړونونه هم لاسلیک شوي دي.

نوره نړۍ او په ځانګړي ډول اسیايي هیوادونه باید د چین دغه ګام تعقیب کړي، خپلې پرېکړې په خپله وکړي، د افغانستان له فعلي وضعیت، پراخو طبیعي منابعو او مناسب جغرافیوي موقعیت څخه د خپلو اقتصادي او سیاسي ګټو لپاره استفاده وکړي او نور دې د پردیو د ګټو لپاره خپل هیوادونه او وګړي له ستونزو او مشکلاتو سره نه مخ کوي. اسلامي امارت په وار وار او په ډېر څرګند ډول ویلي دي، چې په ټول توان به نړۍ سره د دیني او ملي ګټو په چوکاټ کې د اړیکو او تعامل په برخه کې مثبت ګامونه واخلي او په خپل هیواد کې به د پانګونې لپاره مناسبې اسانتیاوې ورته رامنځته کړي.

# عمري عدالت څنګه پلی کېږي؟

عمري عدالت چې د اسلام دویم خلیفه حضرت عمر فاروق ته منصوب دی او هغه ځکه چې حضرت عمر رض په عدالت کې نوموتی و او له همدې امله فاروق ورته ویل کېده.

له حضرت عمر رض وروسته ډېر اسلامي حکومتونه لکه امویان، عباسیان، عثمانیان او په افغانستان کې غزنویان، غوریان او ابدالیان راغلل او تر ډېره یې هڅه وکړه، چې عمري عدالت پلي کړي او خلکو ته د حضرت عمر رض د پالیسي پر بنسټ خدمت وکړي.

پورته ذکر شویو حکومتونو تر ډېره دغه هڅه وکړه، چې ممکن تر ډېره به بریالي هم وو، خو د افغانستان وروستي څو حکومتونه په دغې برخه کې پاتې راغلي وو ،چې ښه مثال یې د تېر جمهوري نظام بې عدالتي وه، چې په ډېرې سپینې سترګۍ یې دغه چاره ترسره کوله او دلته به یې یو مثال د دې لپاره راوړو، چې د یو افغان خبریال په توګه زما ادعا ثابته کړي.

په تېر نظام کې دا یو د ستور ګرځېدلی و، چې زورورو به هم په نظام کې لویه څوکۍ درلوده او هم به یې مرکزي حکومت ننګاوه، خو نه به چا نیولی شو، نه به هم د صفري قطعاتو له لوري یې پر کور چاپه غورځول کېده او نه به هم شکنجه کېده، خو یو غریب به، چې د حق اواز پورته کړ نو سمدلاسه به نیول کېده او په نه خبره به کلونه – کلونه په زندان کې ساتل کېده، خو د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته دا او دې ته ورته بې عدالتیو او ظلمونو ته د پای ټکی کېښودل شو او د رېښتوني عمري عدالت د پلي کېدو لپاره هڅې روانې دي، چې ښه بېلګه یې د حج، ارشاد او اوقافو وزارت له لوري د تېر قمري کال د حج مراسمو افغان ګډون کوونکو ته د هغوی له لګښت څخه د پاتې پیسو د بېرته ورکړې پروسه ده، چې تازه د دغه وزارت له لوري پیل شوې ده.

د حج، ارشاد او اوقافو وزارت د معلوماتو له مخې؛ د تېر قمري کال د حج مراسمو د پر ځای کولو لپاره له هر حاجي څخه ۳۹۲۴ ډالره حصول شوي وو، چې له دغو پیسو څخه ۳۸۱۶ ډالره مصرف شوي او ۱۰۸ ډالره یې بېرته ورکول کېږي.

د اسلامي امارت دغه اقدام ته ورته ډېر نور ګامونه دي، چې اسلامي امارت د عمري عدالت د پلي کولو لپاره پورته کړي او دغه لړۍ په ښه تدبیر روانه ده.

باختر

# د افغانستان او چین ترمنځ روابط له تعامل څخه د رسمیت لور ته وخوځېدل

**رحمت الله فیضان**

د ۲۰۲۳ م کال د سپتمبر ۱۳مه په کابل کې د افغان حکومت د وزیرانو شوراي رئیس د چین د نوي سفیرجاو شینګ باور لیک د یو لړ خاصو مراسمو په ترڅ کې په داسې حال کې ومانه چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سر پرست مولوي امیرخان متقي هم حضور درلود .

د باور لیک د سپارلو پر مهال د چین نوي سفیر ویلي چې چین د افغانستان استقلال ، خمکنۍ بشپړتیا او د پرېکړو استقلالیت ته بشپړ احترام او درناوي لري او د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهني پالیسي نه لري او نه هم غواړي چې افغانستان د خپل نفوذ ساحه و ګرځوي ، ده دا هم ویلي چې په تیرو دوو کالو کې د اقتصاد او د امنیت د تامین ترڅنګ، له فساد، جرایمو او له نشه یي توکو سره د مبارزي په برخه کې زیات پرمختګونه را منځ ته شوي دي .

باورلیک څه دي او د چا لخوا چا ته صادریږي ؟

باورلیک هغه رسمي لیک دي چې د یو هیواد د لومړي شخصیت (معمولا ولسمشر) لخوا د دوهم هیواد لومړي چارواکي ته لیکل کیږي چې د هغه په وسیله په دوهم هیواد کې خپل سفیر معرفي کوي او د هغه د واکونو حدود ټاکي .

د چین د نوي سفیر له لوري د افغان دولت لومړي مقام ته د باور لیک سپارل د افغان دولت د لومړي مقام له منظوري څخه دا چوتې کیږي چې د چین حکومت له لوري د افغانستان د اسلامي امارت د رسمیت پیژندني پر لور آهسته آهسته ګامونه پورته کوي په دې اساس ویلي شو چې د افغانستان او چین ترمنځ دیپلوماتیکې اړیکې لوړې کچې ته پورته شوي دي.

افغانستان او چین د دوو ګاونډیو هیوادونو په توګه، نږدې ۹۲ کیلومتره ګډه پوله سره لري. چین تل هڅه کړې چې له نورو هېوادونو سره خپلو اړیکوته په خاص ډول په اقتصادي ډګر کې پرمختګ ورکړي. په دې اساس د شلمې او ۲۱مې پېړۍ د چین د پرمختګونو تاریخ ته له کتنې څخه څرګندېږي چې د بهرنیو تعاملاتو په برخه کې د دغه هېواد د چلند او فعالیت منطق اقتصاد محوره دي دا هغه پالیسي ده چې نوي افغان حکومت هم غوره کړیده او غواړي چې په تعاملاتو کې خپلو اقتصادي ګټو ته اولویت او ارجحیت ور کړي چي دا ډول پالیسي د افغانستان او چین د روابطو په غښتلتیا کې خورا اغیز ناکه تمامېدلي شي .

چین یو له هغو هېوادونو څخه دي چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو او په افغانستان کې د یوه جامع حکومت د جوړېدو پلوي دي. په افغانستان کې د اسلامي امارت په رامنځته کیدو سره، چین له افغانستان سره د اړیکو د پراخولو په موخه، پر اقتصادي او بشري مرستو سربیره، د دواړو هیوادونو د متقابلو همکاریو د لیوالتیا څرګندونه کوي. دغو روابطو ته په کتو سره سړي حکم کولي شي چې چین به لومړني هیواد وي چې د تعامل له کړښې د رسمیت پیژندلو لور ته و خوځیږي .

# ځوانان د ټولنې هغه پانګه ده چې د سترو پرمختګونو لامل ګرځېدلی شي

**شاه محمود درویش**

ځوانان په حقیقت کې د هرې ټولنې کارنده، رښتینی او غښتلی ځواک او بیسارې پانګه بلل کیږي، ځکه همدغه ځوانان په واقعیت کې د ټولنې د راتلونکې جوړوونکي او له هره پلوه سمبالوونکي دي، هیره دې نه وي چې،« ځوانان د ټولنې بنیادي ځواک دی او د ملا د تیر حیثیت لري، دوي د هیواد په پرمختګ او ترقۍ کې اساسي رول لري. ځوانان د ټولنې متې دي، دوي کولې شي له خپل فزیکي قوت او استعداد څخه په ګټې اخیستنې سره د خپل ګران او محبوب هیواد راتلونکې روښانه کړي او خلک د جهل له تیاروڅخه وژغوري. ځوانان په تعلیمي، سپورتي، تجارتي، صنعتي، زراعتي، د بیارغونې او دهیواد ساتنې او دفاع په ډګرونو کې باید مخکښ وي، خپله وړتیا او فکري او فزیکي قوت په کار واچوي، خپله وړتیا، استعداد او مېړانه ثابته کړي، د خپل کنډر کنډر هیواد چې د ټولو افغانانو ګډ کور دي جوړونه، ساتنه او پرمختګ د دوي دنده او مسئولیت دی...»

پردې بنسټ د هیواد په سترو تصمیم نیونو کې د ځوانانو ونډې ورکولو ته پاملرنه، د ځوانانو د بالقوه ځواکمني او ظرفیت لوړول او د دوئ مسلکي وړتیاووته ارزښت ورکول ډیر اړین دي، پردې اساس زمونږ په ټولنه کې د ځوانانو رغنده رول ته باید تل په درنه سترګه وکتل شي او تل یې مثبتو خوځښتونو او نوښتونو ته ارزښت ورکړای شي ترڅو په دې توګه دوئ لا وهڅیږي چې له خپلی فکري وړتیا او رغنده استعدادونو څخه په استفادې ورځ تربلې د ګران هیواد د پرمختګ له پاره پرنویو نوښتونو او خوځښتونو لاس پورې کړي، له شک پرته چې د هیواد قدرمنوځوانانو په مختلفو برخو کې چې دوئ ته زمینه مساعده شوې له ځانه یې نوښتونه او وړتیاوې ښودلې، ځکه چې افغان ځوانان ډیر نوښتګر دي او اړتیا ده چې تل د دوئ نوښتونو ته د قدر په سترګو وکتل شي او د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه له لورې باید په دوامدار ډول نوښتګر ځوانان تل وهڅول شي او دوئ ته لازم امکانات په واک کې ورکړل شي ترهغه چې په مختلفو برخوکې په خپلو ګټورو نوښتونو د ګران هیواد د ترقي او پرمختګ سبب وګرځي او دا نوښتګر نسل له پخوا څخه زیات پیاوړي شي، پرځوان نسل باید پانګونه وشي او دا پانګونه به دعمل په برخه کې بې له شکه چې مثبتې پایلې ولري.

البته په ټوله کې باید وویل شي اوس مهال زمونږ هغه شمیر ځوانان چې له تحصیلي بنسټونو څخه فارغیږي د خپلومسلکي وړتیاوو پراساس دوئ ته دندې نه پیداکیږي بلکې ډیرې خویې د بیکارۍ او وزګارتیا له امله پردیو ملکونو ته د مهاجرت ستونزمن ژوند ته مخه کوي ...، البته دا یورښتینې واقعیت دي چې ځوانان د ټولنې یوه داسې سرمایه ده که د پرمختګ له پاره سره لاسونه یو کړي نو په مختلفو برخو کې د سترو بدلونونو لامل ګرځېدلې شي، په ځانګړې توګه هغه ځوانان چې د عصري او دیني علومو پر ګاڼه سمبال دي، نوله شک پرته دوئ کولای شي خپل واقعي ارزښت په ټولنه کې و پیژني او هغو مسئولیتونو ته متوجه شي چې په دوی پورې اړه لري او په ټولنه کې د یو مخلص او رښتیني خدمتګار او خیرخواه انسان په توګه دندې ترسره کړي، نوپه دې ډول د ټولنې د ستر پرمختګ سبب کیدای شي، ځوانان په حقیقت کې د هرې ټولنې ځواکمنتیا ده او دوی د خپلو ځواکمنو متو په قوت او دقوي استعدادونو او وړتیاوو په لرلو سره کولای شي د ټولنې د پرمختګ سبب شي، نو دټولنې د وګړو سترګې هم تل د ځوانانو د مثبت اقدام، کارنده نوښت او خوځښت په لورې دي، ځوانانو ته ضروري ده چې په ټولنه کې خپل ورسپارل شوي مسئولیتونه په ښه توګه ترسره کړي او تل باید په دې هڅه او هاند وي، چې ځانونه له هرراز اخلاقي انحرافاتو، مخدرو توکو او دخانیاتوڅخه په امان کې وساتي او هم باید په ټولنه کې نور وګړي چې پر دغو ستونزو اخته وي د هغوئ مخه دې هم ونیسي او په دې ډول خپله اسلامي او انساني وجیبه ترسره کړي ترهغه چې په راتلونکي کې ټولنه له هرراز بدمرغیو څخه وژغورل شي او د ترقي اوپرمختګ په لور ورځ تر بلې مخ په وړاندې لاړه شي.

نو د یو ستر لومړیتوب په توګه د ځوانانو وړتیاوو ته باید جدي او هر اړخیزه پاملرنه وشي ترهغه چې د ځوان نسل د پوهنیزو وړتیاوو، نوښتونو او خوځښتونو په لړ کې ګران افغانستان او جګړه ځپلي پتمن ولس له شته هرراز ستونزو او کړکیچونو څخه وژغورل شي، د ترقي او پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسیږي او له امله یې په راتلونکي کې په ټولیزه توګه ټول افغانان په خپل پلرني ټاټوبي کې له هوسا او بسیا نیکمرغه ژوند څخه برخمن شي.

# وضع تحریم های اقتصادی یک حرکت ضد بشری است

روان

در زمان ما سیاست، اقتصاد و جنگ دوشا دوش هم پیش می روند. طوری که توسط اقتصاد، ملت های غریب، در جنگ ، در بدر و خانه بر دوشی را شکار می کنند و اگر توسط پول دالر و درهم شکار نشدند و عکس العمل منفی نشان دادند و زیر یوغ مستکبرین نرفتند، با کمپاین های تبلیغاتی مستقیم و غیر مستقیم خویش در میان مردم نفاق افگنی می کنند و اقوام، مذاهب و نژاد ها را علیه همدیگر می شورانند تا با هم مشت و یخن شوند و هر چه دار و ندار آنان در جنگ مصرف و استهلاک شوند و ضمناً هم در جریان جنگ برای یک طرف آن که نسبتاً موقف ملایم در برابر مستکبرین دارند، طور مستقیم و برای طرف دیگر آن توسط اقمار منطقوی سیاست های شان و یا هم منافقین یا دوچهره ها به دست دوم و سوم سلاح و مهمات و دیگر ضروریات جنگی می فرستند، طوری که از ابتدای جنگ و کشمکش تا یک مدت، توازن قوا و مهمات نظامی را در نظر گرفته و آنرا حفظ می کنند تا اینکه مدتی جنگ و ویرانی ها دوام پیدا کند، خون مردم بریزد، شهر ها ویران شود و سرمایه های مردم به صفر تقرب کند و هردو طرف هم از دست و پا بیفتد، آنگاه توسط جواسیس استخباراتی خود پیامکهای را برای هر دو طرف مخابره می کنند و هر طرفی که برای این پیامکها چراغ سبز نشان داد، به آنان کمک های بیشتر پنهانی می فرستند و راه ها و نقشه های خود را در بدل پول و امکانات مادی و امتیازات سیاسی بر آنان تحمیل می کنند و طرف دیگر جنگ را که حاضر نیست در برابر پول و... نقشه های دشمنان شانرا در کشور های شان بپذیرند و آنرا برای خود ننگ می دانند ، زیر تحریم های اقتصادی خود قرار می دهند. در این حال اگر آن طرف در اقتدار سیاسی باشد، وضع تحریم ها بر آنان به صورت مستقیم مردم را زیر فشار می گیرد، زیرا اقتصاد ،سیاست، تجارت، صادرات و واردات توسط حکومت ها کنترول و تنظیم می گردد و وقتی که دست حکومت ها از تنظیم سالم امور مردم کوتاه گردد، طبیعی است که مدیریت بازار و اقتصاد از بین می رود و هرج و مرج در داخل بازار به میان میاید و این هرج و مرج قیمت اشیا را در بازار دچار بحران می کند و بحرانی شدن قیمت اشیای بازار به صورت مستقیم زندگی مردم را زیر فشار قرار می دهد. طوریکه اگر مردم متمول که شمارشان ۱۰ درصد نفوس کشورها می گردد را خیلی هم فشار می دهد و مفاد قبلی آنان یک مقدار کاهش می یابد، مردم متوسط هم که فیصدی آنان ۲۰-۳۰ درصد نفوس را تشکیل می دهد، اندک تفاوت را تجربه می کنند و در مضیقه های اقتصادی گیر نمایند، اما بقیه مردم که بالاتر از ۵۰ درصد نفوس کشور ها را تشکیل می دهد و با مزد کم کار می کنند و پروسه کاری روزانه آنان هم توسط بازوان همین طبقه به پیش میرود، زیر شدیدترین فشار تحریم ها قرار می گیرد تا جایی که عوامل مرگ وزندگی آنانرا رقم می زند و ثانیه، ثانیه زندگی آنان از اثر تحریم ها آسیب می بیند و هدف اساسی مستکبرین زمان هم همین است که همین طبقه غریب و زحمتکش و کارکن و اکثریت نفوس کشورها و نیروی کاری روزگار با زندگی خود به تنگ آیند و در اثر فقر و بیکاری و بلند رفتن موادبر بازار که در نتیجه آن به صورت طبیعی جرم ، جنایت و نا امنی هم سایه می افگند، دست به تظاهرات بزنند و علیه مخالفین آنان شعار بدهند و نا امنی ها را افزون بسازند، هرج ومرج آن تمام نفوس مردمی کشور ها را به چالش بکشد و به این ترتیب با مداخلات مستقیم و غیر مستقیم خود حکومت های مخالف خود را به سازش وادار کنند و یا حداقل از میان چند نقشه دشمن به یکی هم که ممکن شود، تن دهند.

بنابراین واقعیت هایی که بر شمردیم، به صراحت گفته می توانیم که وضع تحریم های اقتصادی و بازار در حقیقت یک حرکت ضد بشری و ضد مردمی است که سیاسیون مستکبر برای بدست آوردن اهداف استعماری خویش از طریق فشار تحمیلی بر مردم و به تنگ آوردن آن، بر حکومت هایی که به فرمایشات آنان وقعی نمی گذارند، وضع میکنند و این خاصیت مستکبرین و نظام های سرمایه داری و کاپیتالیست است که بنابر مطالعه شرایط عینی، در هر زمان و مکان از آن استفاده میکنند که صد درصد بر ضد اکثریت نفوس کشورها تمام می گردد و درین کار ادعا های آنانرا که گویا در نظام های آنان اکثریت مدار اعتبار است، نیز به مضحکه می برد و آنهم یک بهانه و یک نیرنگ است که برای گول زدن مردم از آن استفاده میکند و در کل گفته می توانیم که سیاست های مستکبرین اصلاً هیچ منطقی ندارد و زر، زور و تزویر همه در یک آن واحد وارد فاز می شوند و بشریت را و حقوق بشری را به انحای مختلف زیر پا میکنند و برای تعقیب اهداف امپریالیستی خویش از هیچ جنایتی رونمی گردانند و هکذا اعمال هر جنایت در قاموس آنان برای بدست آوردن اهداف امپریالیستی آنان مقدس و خوب شمرده می شود.

**بنابراین واقعیت هایی که بر شمردیم، به صراحت گفته می توانیم که وضع تحریم های اقتصادی و بازار در حقیقت یک حرکت ضد بشری و ضد مردمی است که سیاسیون مستکبر برای بدست آوردن اهداف استعماری خویش از طریق فشار تحمیلی بر مردم و به تنگ آوردن آن، بر حکومت هایی که به فرمایشات آنان وقعی نمی گذارند، وضع میکنند و این خاصیت مستکبرین و نظام های سرمایه داری و کاپیتالیست است که بنابر مطالعه شرایط عینی، در هر زمان و مکان از آن استفاده میکنند**

## سپین خبري

محمد «حقمل»

که سپیني خبرې وکړم او سپینه یې ووایم، دیني علمأ کرام زموږ د ټولنې یو نه بېلېدونکې جز او د ټولنې لارښوونکي دي. اوس چې دواک واګې د همدوی په لاس کې دي، پکار ده چې خپله ټولنه او دغه ځورېدلی مؤمن او مجاهد ملت په داسې لوري رهبري کړي چې د افغا ناتو د ژوند دغه طوفاني بېړۍ د نجات ساحل ته راوباسي په او په خپل ګران او محبوب هیواد افغانستان کې د پردیو نیابتي جنګونو ته د پای ټکي کېږدي. اوس چې نړیوالو اشغالګرو او د امریکا تر قیادت لاندې د ناټو ائیلافي ځواکونو په افغانستان کې ما ته خوړلې او د افغاني مجاهدینو د چریکي بریدونو او فدایي حملو د تاکتیک په پایله کې پاتې راغلل او خپله ماته یې ومنله، نو غواړي چې د یوه منظم تبلیغاتي رسنیز پلان له مخې د حکومت او ملت ترمنځ واټن ایجاد کړي او ملت پر اسلامي امارت بې باوره کړي. کله د ښځو د حقونو، کله پر تعلیم د بندیز او کله د قومي تعصب اور ته لمن وهي او د انټرنېشنل ټلویزیوني چینل په ایجادولو سره چې د اسلامي امارت پرضد نشرات خپروي او د بي بي سي، امریکا غږ، آشنا ټلوېزیون او آزادي راډیو له خوا یې بدرګه کېږي او په همدغو ټلوېزیوني چینلونو او راډیویي دستګاوو کې ځیني پلورل شوي سیاسي او نظامي اجنټان چې پخوایې د روسانو او امریکایي ځواکونو او چارواکو د ساتنې او دفاع دنده درلوده پوچې او بېځایه څرګندونې کوي، چې له حقیقت سره هېڅ اړخ نه لګوي. دوي تبلیغاتي لړۍ جاري ساتلې او نه غواړي چې په افغانستان کې یو منظم اوغښتلی حکومت او نظام چې افغانانو یې د قیام لپاره په میلیونونو شهیدان او قرباني ورکړې رامنځ ته شي، خو موږ وایو چې د دوي دغه مذبوحانه هلې ځلې به هېڅ ښه پایله ونلري. افغانان اوس پوه شوي او هېڅکله به بیا پر هغوي باور ونکړي، ځکه چې هغوي ملي خاینان دي او دا هیواد یې لوټ کړي او ددې ملت پر عزت ا و حیثیت یې لوبې کړي. په سرکې مو ذکر کړه چې دیني علمأ کرام ددې ټولنې یو نه بېلېدونکی جز او زموږ د ملت رهنما دی ،ملت یې ملاتړی دی او اوږه په اوږه به د هیواد او ملت د دښمنانو پرضد مبارزه کوي ترڅو ددوي شومې او ناولې هیلې له خاورو سره خاورې کړي او هیواد او ملت ددوي له ناولو او منحوسو منګولو څخه وژغوري چې دا تمه یوازې له همدوي ( دیني علماؤ) کېداي شي او بس.

په همدې هیله

د سټنډرډ ملي اداره:

# ۲۰۰۰ ټانکره غیرسټنډرډ تیل بېرته ګاونډیو هیوادونو ته مسترد شوي

افغانستان ته د بې کیفیته او غیر سټنډرډ ودانیزو او نفتي موادو واردول په یوه لویه ستونزه اوښتې وه؛خو له نېکه مرغه،چې په ټول هېواد کې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره د سټنډرډ ملي اداره د پخوانیو نظامونو په پرتله غښتلې شوې ده.په دې موده کې د ګاونډیو هېوادونو غیرسټنډرډ نفتي مواد بېرته مسترد شوي دي.همداسې د ودانیزو غیر سټنډرډ مالونو مخنیوی هم شوی دی.د دې ترڅنګ هغه فابریکې،چې د هېواد په دننه کې فعالیت لري دهغو تولیدات هم چک کېږي؛خو د غیر سټنډرډ د تثبیت کېدو پرمهال یې مخنیوی کېږي.په دې اړه زموږ خبریال یو راپورتاژ چمتو کړی،چې خپرېږي.
د اسلامي امارت د سټنډرډ ملي ادارې ویاند عاشق الله((وزیري)) افغانستان ته له ګاونډیو هېوادونو د غیر سټنډرډ نفتي موادو واردولو ته په کتوسره وایي:دوه زره ټانکره غیرسټنډرډ تیل بېرته ګاونډیو هېوادونو ته مسترد شوي دي.د افغانستان د سټنډرډ ملي اداره پر ټولو هغو مالونو،چې له بهره هېواد ته واردېږي پر هغو څارنه او نظارت کوي،چې زموږ خلک سټنډرډ او کیفیت لرونکي مواد تر لاسه کړي.له تېر کال راهیسې موږ پر دې توانېدلي یو،چې هېواد ته د کابو دوه زرو غیر ټانکره سټنډرډ تیلو څخه مخنیوی وکړو.کله،چې دغه تیل زموږ په سرحدي بندرونو کې په لابراتوارونو کې چک شول غیر سټنډرډ او بې کیفیته تثبیت شول.همداسې په ډېرو نورو هېوادنیو فابریکو کې هم موږ څارنې ترسره کړې دي.هغه فابریکې چې له سټنډرډ او معیار سره برابرې نه وې هغه معیاري او سټنډرډ شوي دي.د دغو فابریکو د څارنې او نظارت دریم پړاو هم ترسره شو.د دې ترڅنګ موږ د تیلو په پامپ سټېشنونو کې هم خپل نظارت لرو.
دی هېواد ته له غیرقانوني لارو څخه د غیر سټنډرډ موادو واردولو بهیر ته په اشارې سره وایی:موږ د هېواد په ګوټ ګوټ کې فعالیت لرو که چېرې څوک غیر سټنډرډ مواد هېواد ته واردوي او موږ پوه شو مخنیوی یې کوو. له نېکه مرغه تر دې دمه مول ډېرو بې کیفیته موادو څخه مخنیوی کړی دی.د هېواد په بندرونو کې زموږ آمریتونه فعالیت لري او پرمختللې لابراتوارونه یې په واک کې دي، مالونه او تیل په ښه شکل ټسټ کولی شي.په هغو لارو،چې په ناقانونه توګه هېواد ته تیل او ودانیز توکي راوړل کېږي زموږ څارنه اونظارت په لاروکې ډېر شوی دی.
وزیري له ګاونډیو هېوادونو څخه د ودانیزو موادو واردولو ته په کتوسره څرګنده کړه:
دوه زره ټانکره غیرسټنډرډ تیل بېرته ګاونډیو هېوادونو ته مسترد شوي دي.د افغانستان د سټنډرډ ملي اداره پر ټولو هغو مالونو،چې له بهره هېواد ته واردېږي پر هغو څارنه او نظارت کوي،چې زموږ خلک سټنډرډ او کیفیت لرونکي مواد تر لاسه کړي.
موږ د هېواد په دریو بندرونو لکه حیرتان،اسلام کلا او ننګرهار کې د ودانیزو موادو لابراتوارونه لرو.دغو بندرونو ته د ګول پړاو،چې مخکې مې هم یاد کړ پلې کېږي.موږ هڅه او هاند کوو،چې هېوادوالو ته داسې توکي وړاندې شي،چې د دوی روغتیا او سلامتیاته تاوان پېښ نه شي.
دی د غیرسټنډرډ مالونو د معلومولو او تثبیتولو بهیر ته په کتو سره وایي:د پخوا په پرتله اوس زموږ بریالیتوب ډېر شوی دی لکه سیخونه،انګلارن، آهن چادر او سیمنټ له بېلابېلو هېوادونو څخه واردېږي او کیفیت یې چک کېږي.که چېرې د دغو موادو کیفیت ټیټ وي د ملي سټنډرډ اداره هېواد ته د داخلېدو اجازه نه ورکوي.سربېره پر دې هغه فابریکې،چې د هېواد په دننه کې فعالیت لري پر هغو هم د سټنډرډ
مخکې مې چې وویل د دوو زرو بې کیفیته ټانکره تیلو مستردول لویه لاسته راوړنه شمېرل کېږي. اوس موږ خپلو هېوادوالو ته د ۸۰ سلنې شفافیت راوستلو ډاډ ورکوو. موږ هڅه او هاند کوو،چې د شفافیت او سټنډرډ پلې کول سلو فیصدو ته لوړ کړای شي.
ښاغلي وزیري د هېواد پنځه زرو فابریکو کې د سټنډرډ میکانیزم پلي کولو ته په اشارې سره وویل:موږ دغه پنځه زره فابریکې ،چې په هېواد کې فعالیت لري د دوی د پوهولو لپاره مو اعلامیې او خبرتیاوې ورکړي دي.سربېره پردې د دغو فابریکو له خاوندانو او استازو سره مو مجلسونه او خبرې کړي دي.دوی ته مو دا هم ویلي،چې د سټنډرډ ملي اداره ستاسې پرمخ پرانیستلې ده او هڅه وکړئ،چې سټنډرډونه په خپلو تولیداتو کې په پام کې ونیسئ.زموږ کورنۍ فابریکې بهرته صادرات لري،موږ تل داغوښتي،چې په نړیوالو بازارونو کې زموږ د تولیداتو ارزښت او شهرت ډېرشي.
موږ له درنو سوداګرو او پانګوالو هیله لرو،چې د سټنډرډ ملي ادارې ته راشي،چې موږ پرې څارنه او نظارت وکړو.
دی د دغې ادارې پراختیا ورکولو ته په اشارې سره وایي:د یونیم کال په موده کې د افغانستان د اسلامي امارت چارواکو او همداسې د سټنډرډ ملي ادارې مشرتابه خلکو ته د باکیفیته خدمتونو د وړاندې کولو برخه کې ډېر زیار ایستلی او دا لړۍ تر اوسه پورې دوام لري.موږ هڅه او هاند کړی،چې د سټنډرډ ملي ادارې ساحه پراخه شي،چې همدا اوس دا کارشوی دی؛خو سربېره پردې موږ نورهم زیارباسو،چې نورهم د دغې ادارې فعالیتونه وغزول شي.د سټنډرډ ملي ادارې د مشرۍ په نوښت په ټولو بندرونو کې د تیلو او ودانیزو موادو د کیفیت د معلومولو لابراتوارونه جوړ شوي دي.
ښاغلي عاشق الله((وزیري)) هېوادوالوته د ډاډ ورکولو بهیر ته په اشارې سره وایي:ټول هېوادوال دې هڅه وکړي،چې د ملي سټنډرډ له ارزښت څخه ځانونه باخبره کړي.په دې تړاو موږ په ښوونځیو او پوهنتونونو کې له سټنډرډ څخه د خلکو د پوهولو کمپاینونه په لاره اچولي دي.دوی هم دنده لري،چې په هره برخه کې سټنډرډونه پر ځانونو پلي کړي او سربېره پر دې ګرانو سوداګرو ته زموږ پیغام دادی،چې داسې تولیدات صادر او وارد کړئ،چې کیفیت یې لوړ وي؛ځکه دغه ملي مسئله ده.د نه منلو او نه پلي کولو پرمهال ولس ته تاوان پېښېږي.
د خیرخانې لین ټکسي چلوونکی عبدالله د سټنډرډ تیلو ارزښت ته په کتوسره وایی:موږ هره میاشت د رسنیو له لارې خبرېږو،چې د افغانستان په بندرونو کې په تېره بیا له ایران سره د فراه ولایت،اسلام کلا اونیمروز بندرونو ته د راوړل شویو تیلو د غیر سټنډرډ او بې کیفیت والي له امله مسترد شوي دي.دا لړۍ روانه ده.پخوا به چې موږ له پامپ ستیشنونو څخه تیل پېرل یوه اندازه یې بې کیفیته تیل وو.دغو تیلو ډېر دود کاوه او هوا یې هم ککړوله او سربېره پر دې د موټر انجن ته یې هم تاوان پېښاوه؛خو له کله نه،چې د اسلامي امارت د سټنډرډ ملي ادارې فعالیت ډېرشوی او په بندرونو کې یې نوي لابراتواري تجهیزات فعال کړي دي د تیلو کیفیت هم ښه شوی دی.تر ډېره د درغلۍ مخنیوی شوی دی. که چېرې موږ په همدې بڼه پرمخ ولاړ شو د فساد مخه به ونیول شي او زموږ هېواد او خلک به هم پرمختګ وکړای شي.موږ د سټنډرډ ملي ادارې څخه مننداوی یو.
وحیدالله تیل پلورونکی په تېلو او نورو برخو کې د سټنډرډ ارزښت ته په کتو سره وایي:
پخوا کلونو کې د سټنډرډ ملي ادارې ته؛ځکه ... ۷مخ



# په هوټلونوکې دې د لوړو لګښتونو مخه ونیول شي

حیات الله حلیم

په هوټلونوکې ودونه اودودونو پر مهال لوړ لګښت ، اوس په یوه داسې سیالیګراوخیالیګر، دوداوبشتي چې هغه کورنۍ چې دسهاراوبیګا دخوراک لپاره څه نلري ، دسیالي اوشریکۍ دپوره کولولپاره چمتووي چې په لوړ او ملاماتوونکي لګښت په هوټلونوه کې دخپلواولادونودواده مراسم ونیسي ، په هوټلونو کې دودونو مخینه یوازې څولسیزوته رسېږي له هغه دمخه ، به که شتمن و، یا نیستمن دخپلو اولادونودواده مراسم به یې خپلو کورونوکې

اونه هم له حقوقي اصولواو قوانینوسره کوم اړخ لګوي او بې ځایه مصارف اومالي لګښت دي .

په احادیثو کې را ځي ( بهتره دښځو هغه ښځه ده چې مهراولګښت یې کم وي) دهوټلونوپه ودونو کې اوسني لوړلګښتونه دهغو دودونو او رسومو زیږنده دي چې په څرګنده داسلام دسپیڅلي دین له اصولوسره په ټکرکې دي ځکه موږ د[لا تصرفو] شرعي روایت لرو اسلام هیڅ شی پټ نه دي پریښې اوهرڅه ته یې داسې حدودټاکلي

اوپیغله دپردې ترشا خپلې کورنۍ مجبوروي چې په هوټلونوکې ددوي دواده مرسم تر سره شي اودوي دواړه دشاه اوعروس په تخت دخپلوانوهمزولو اوسیالانوترمنځ را څرګند شي .

[ په هوټلونوکې دلوړو لګښتونومخه دې ونیول شي] زموږ دګڼ شمېرهېوادوالومتحدالمال غږ دي چې وایي : په هوټلونو اوهالونوکې دوي دواده دمراسمو له نیولوسره کلک اوکانکریټي مخالف دي ځکه دغو بیځایه سیالیو دوي ته دا بده ورځ جوړه

مقابل کې ترلاسه کوي دبېچاره ملت دهوسایني په خاطردې ترې تیر شي ، له دې دمخه به ولورونه دومره درانه وو چې دهېوادېري پیغلې اوځوانان به مو له نکاح پرته زاړه شول ، اوس داسې هوټلونه پکې را پیدا شوي چې دځوانانودنکاح په پروسه کې ځنډونه اوخنډونه را پورته کوي .

په هوټلونو کې ودونه نه یوازې شخصي شتمني زیانمنوي بلکې ګټه یې دهغو رندو اوچالاکو هوټل لرونکوجیبونو ته ورځي

اوشریکې دپوره کولولپاره په هوټل کې ونیول شي دوي دلیل را وړي موږ له خلکو شرمیږو ځکه له خلکو موپه هوټلونوکې خوړلې اوپه هوټلونوکې بایدډوډۍ ورکړو.

په هوټلونوکې اشرافي ودونه اوپه ودونوکې لوړلګښت که څه هم اوس دیوې مرعي الاجرا ناسالمې سیالې په توګه نیمه قانوني بڼه خپله کړې اوله حکومت پرته بل څوک یې مخنیوي هم نشي کولای خو ښه به دا وي چې راعي یې په رعیت دهوسایني په خاطردیوه شفقت له مخې مخنیوي وکړي اودا مخنیوي به سبب شي چې څوک چاته پیغور ورنکړي چې داولاددواده مراسم دې ولې په هوټل کې نه دي نیولي ؟

که څه هم دودونو اونورو ورته ټولنیزو مراسمو لپاره له نن څخه سل کال وړاندې قوانین موجوداوکلک رعایت کیدل خودا مخکنۍ دځو لسیزو دقدرت خلا ددې سبب شوه چې نه یوازې دواده قوانین بلکې نورمدني قوانین هم سره ګډ وډ کمزوري اوترپښولاندې شي .

په دغو قوانینوکې دودونو په اړه ټول هغه ناروا رواجونه لکه دنیکریځودشپې لګښتونه ، تخت ټولونه ، شریني خوړې او دې ته ورته نورو مفاسدو دمخنیوې او دبندیزپه اړه احکام جاري شوي و، همدارنګه دهمدې قانون له مخې په تویونو کې به دولیمې دخوړلو لپاره له دواړو خواوو تر ۱۵۰ کسانو پورې ګډون کاوه دهغه وخت دکابل ښارولې مکلفه ده چې له دې امرنه کلک نظارت اوڅارنه وکړې،خو اوس دیوه نس ډوډۍ لپاره ځینې غیرتي کورنۍ مجبورېږي چې ددې ناسالمو سیالیو له مخې خپل املاک اوجایدادونه په پټه خوله و پلورې اوله شتمنوسره په دې سیالې کې ځان برابر کړي .



نیول چې خوارانو اوغریبانوبه یې هم دواده په ولیمه کې یوڅه څکه کوله ، خواوس چې ودونه دهوټلونومفشنو سالونونوته نقل شول یوازې هغه کسان ګډون پکې کولي شي چې دموترامکانات ولري اودکارت په ذریعه دعوت شوي وي ، نوځکه دولیمې په دغه خیرات کې خواران او غریبان ګډون نشي کولای ، لیدل کېږي چې دا ناسالمه سیالۍ اوس ورځ دبلې په پرتله داسې زورنیسي چې پانګه وال شپه او ورځ لګیا دي دنویوهالونواوهوټلونو دجوړولولپاره پانګونې کوي ، په داسې حال کې چې دغه عملکردنه له اسلامي نه مدنې

چې ټولوته دمنلووړدي ځکه دا داسې حدوددي چې شخص اوټولنه هېڅکله نه پرې متضرره کېږي .

په هوټل کې واده دیوې غریبې کورنۍ دبربادۍ لپاره کفایت کوي که له چا سره دا پوښتنه پیدا کېږي ، څوک چې وس نلري هغه دې په هوټل کې دواده مراسم نه نیسي ، ځواب دادئ چې په واده کې دزوم اوناوې دوې کورنۍ ګډون لري په دغو دوو کورنیوکې یوه یې حتمي مقابلې کورنۍ ، که یې خوښه وي یانه ، په هوټل کې واده ته مجبوروي که کورنۍ په خپلو کورونو کې دوده مراسمو ته را ضي وي زوم په ښکاره

کړې چې اقتصادیې په یوه شپه اویوه نس ډوډۍ بربادشي نوځکه په واز کومې پر اسلامي امارت غږ کوي چې پخپل ټول توان ددې خپل سریودمخنیوي لپاره لاس په کاراوعادلانه ګامونه دې پورته کړي ځکه دوي وس نلري اواولادونه یې ترې سیالي اوشریکي غواړي ځکه ددې ناسالمې سیالۍ اوشریکۍ پر ځاي کول ددوي داقتصادي بربادۍ سبب کېږي که چېرې هوټلونه وتړل شي نودا [ظالمانه] پلمه به دهرچا لپاره ورکه شي .

دوي وایي : هغه مالیات اوټکس چې اسلامي امارت یې له هوټلونوڅخه دودونوپه

چې دوي با وجوددې چې دهوټلونومالکان هم دي ، دخپلواولادونو ودونه هېڅکله په خپل هوټل کې نه نیسي ، ځکه پوهېږي چې دا بابیزه مصرف اولګښت دي ،داچې ددوي په هوټلونوکې بیا ولې بل څوک دودونومراسم نیسي ؟ دوي خپل وجدان ته خجل اوغوږونه یې پرې کانه اچولي .

په هوټلونوکې دودونو اود دغو ملاماتوونکو، رواجومخنیوي ه کورنیوکې دوالدینو او اولادونو ترمنځ دا حتمالي شخړوله پیښېدوڅخه هم مخنیوي کوي ځکه اولادونه تل په والدینوپسې اړم وي چې که پیسې لري یانه دواده مراسم یې بایددسیالې

# عالم پر افتخار کشور ما میر عبدالبصیر صدیقی

یکی از اساسی ترین عامل پیشرفت اقتصادی،اجتماعی و کلتوری جامعه بشری خواندن و نوشتن است یعنی کتاب بخوان و کتاب بنویس با تأسف که مردم عزیز کشور ما طوری که در جهان دیگر کتاب خواندن و کتاب نوشتن رایج است با آن فاصله زیاد دارد و

پی بردم که مطالب کتاب برای کامیابی دنیا و آخرت کافی است.

ویژه گی دیگر که مسجد شریف اویس قرنی داشت شورای فرهنگی مسجد بود که با تاسف نتواستم به اعضای محترم شورای فرهنگی مسجد هم کلام شوم تا احساسات دینی

**در کشور عزیز ما در قسمت شعر و ادب یک مقدار کتاب تحریر و چاپ شده اما در قسمت علوم دینی،طبیعت،ساینس و تکنالوژی افراد انگشت شماری داریم که به این کار عظیم و مفید مبادرت ورزیده از جمله یکی هم نویسنده کتاب(یکصد و پنجاه درس اعتقادی،عبادی،اخلاقی)محترم میر عبدالبصیر صدیقی خطیب مسجد جامع اویس قرنی هرات است**

این یکی از عوامل عقب ماندگی اقتصادی و کلتوری ما محسوب می گردد.

در کشور عزیز ما در قسمت شعر و ادب یک مقدار کتاب تحریر و چاپ شده اما در قسمت علوم دینی،طبیعت،ساینس و تکنالوژی افراد انگشت شماری داریم که به این کار عظیم و مفید مبادرت ورزیده از جمله یکی هم نویسنده کتاب(یکصد و پنجاه درس اعتقادی،عبادی،اخلاقی) محترم میر عبدالبصیر صدیقی خطیب مسجد جامع اویس قرنی هرات است این عالم بی بدیل دروس یومیه را به شکل کتاب در می آورد تا متواتر خوانده شود و در اذهان باقی بماند خلاقیت دیگر این عالم دانا و توانا در این است که موضوعات دروس را دقیق انتخاب می کند و ان موضوعات را اولویت داده که مسلمین به فهم ان روزانه احتیاج دارد.

لحظاتی کوتاه که در یک شام با جناب میر عبدالبصیر صدیقی بودم و نماز شام را به امامت ایشان ادا کردم در زندگی ام شاید بار اول بود که از نماز لذت کامل بردم و در طول نماز کاملاً در نماز بودم و بعد از نماز ارامش و سکون قلبی و روحی احساس کردم وقتیکه با مولوی صیب بزرگوار هم صحبت شدم و کتابخانه بسیار مجهز اویس قرنی(رح)را برایم نشان داد و کتاب تازه چاپ شده خود را برایم تحفه کرد فکر کردم که تمام دنیا را برایم تحفه کرده زمانی که فهرست مطالب کتاب را مطالعه کردم بی تردید

و فرهنگی ایشان را به غرض ارامش خاطر دیگر هموطنان دین دوست و کشور دوست خود انتقال میدادم به هر حال این وظیفه را میگذارم به وزیران اطلاعات و فرهنگ و وزارت حج و اوقاف امارت اسلامی افغانستان تا هر کدام در بخش خود به امورات ذیل رسیده گی کند.

## وظایف وزارت حج و اوقاف:

۱:به غرض تشویق و ترغیب،خطیبان تمام کشور را درجه بندی کند.

۲:به خطیبان ممتاز امتیازات بیشتر مادی و معنوی قایل شود.

۳: به خطیبان سیر علمی از همچو مساجد مثل مسجد شریف اویس قرنی هرات و دیگر مراکز علمی مساعد سازد.

٤:بین تمام خطیبان کشور چه شیعه و چه سنی به غرض وحدت و همبستگی مردم و دفاع از نوامیس مشترک زمینه ارتباطات به غرض اشتراک تجارب مساعد سازد.

## وظایف وزارت اطلاعات و فرهنگ:

۱:از تمام مساجد جامعه کشور که شعبات فرهنگی دارد سروی صورت بگیرد.

۲:به نیاز های مادی و معنوی شورا های فرهنگی مساجد رسیدگی کند.

۳:به خطیبان جوان مساجد کشور زمینه کورس نویسنده گی و زبان،کوتاه مدت و میانه مدت مساعد سازد.

٤:در تاسیس کتابخانه های دینی و غیر دینی در تمام مساجد کلان و پر نفوس کشور با مردم همکاری کند.

# د سنتو پيروي کول

## شپږ پنځوسمه برخه

وحيدالله عمر المدني

### کلام او خبرې

دخبرو اترو آداب، په ژوندکي يوه ډېره اهمه موضوع ده. خوموږ دې موضوع ته هيڅ توجه نه ده کړې، داسي ګومان کوو چي دا دومره داهميت وړ موضوع نه ده او يا يې هم له ديني اهميت او ارزښت څخه ناخبره يو. مګر، که دژوندقانون( دالله ج سکون-آرام بخښونکي کلام) قرآنکريم په پوره پوهي او بشپړ تفسير سره وويل سي، نو معلومه به سي چي الله ج ددې موضوع په اړه ډېر څرګنداو دقيق دئ- دې موضوع ته يې ځانګړې پاملرنه کړېده. مګر موږ بابيېزه ګڼلې ده – که محفلونه/مجالس جوړوو، نوبغير له فحش او فضولو خبرو، غيبت، ناروا، فسق -فساد، بربنډې موسيقي، بيځايه خندا... نور څه پکښې نه وي!

نو ضرور دا ده چي موږ بايددخپل پيغمبر ﷺ په طريقه باندې روان و اوسو.چي رسول الله ﷺ په کومه طريقه خبرې کولې ،څنګه خبرې يې کولې او دبل چا خبرې يې څنګه اوريدلې دا مطالب به ان شاء الله په دې ليکنه کي ولولو او ددې تر څنګ به دخبرو آداب او دخبرو کولو اهميت باندې هم ځان خبر کړو.

درسول الله ﷺ دخبرو کولو طريقه:

- حضور ﷺ به بتدريج کلام فرمايلو(شمائل)
- حضور ﷺ به تبسم کولو سره خبرې فرمايلې(مجمع الزوائد۱،۱۳۱)
- دخبرو کولو په وخت کي دحضور ﷺ دغاښونو مبارکو نه نور راوتلو(بخاري)
- حضور ﷺ به فضول خبرې نه کولې(ترمذي)
- حضور ﷺ به دخبرو کولو وخت کي کله کله لاس ته حرکت ورکولو(ترمذي)
- حضور ﷺ به په لاس مبارک سره هوداشاره کوله(دپوهولو لپاره)(سبل الهدي۷،۱۳۷)
- دحضور ﷺ کلام به طويل نه وه(اتحاف)
- حضور ﷺ به بغير دضرورت نه خبرې نه کولې(ترمذي)
- دحضور ﷺ په خاموشۍ کې به يي وقار و او په خبرو کې به بهار و(بيهقي)
- حضور ﷺ به کله کله دخبرو کولو وخت کې آسمان طرف ته کتل(ابو داوودص ۲۶۵)
- حضور ﷺ به اکثره درې ځله خبره فرمايله(شمائل ص ۱۴)
- حضور ﷺ دسوال جواب هم درې ځله فرمايلو(ابن سعد)
- حضور ﷺ ته په تيز آواز او زور سره خبرې کول نا خوښ وو)کنز الاعمال ۷،۱۴۷)
- حضور ﷺ به په خبرو مثالونو سره هم پوهول کول(مجمع الزوائد۲،۲۴۸)
- حضور ﷺ به دعربي ژبې نه علاوه هم خبرې کولې (بخاري ص ۵۸۹)
- حضور ﷺ بيبيانو ته قصه اورولې ده (شمائل ص ۱۷)
- حضور ﷺ به دچا دخبرو منځ کې خبرې نه کولې(شمائل ص ۲۹۱)

دا وه دحضور ﷺ دخبرو کولو طريقه چي په څومره ښکلي انداز سره يي خبرې کولې او په څومره ښکلي شان سره يي خلګ پوهول نو ضرور ده چي موږ هم په همدې طريقه خبرې وکړو .

دخبرو کولو آداب:

دخبرو کولو هم څه اداب دي. او سړي دهغه له خپلو خبرو څخه پيژندل کېږي.

حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي: (( انسان دهغه دژبې شاته پټ وي.))

يعني تر څو چي خبرې نه کوي، دهغه خامياني او کمزورياني پټې وي، غلي اوسېدل يوه ښېګڼه ده، نو په دې توګه دانسان دا ښېګڼه نورو ته په ډېره اسانۍ معلومېږي.

که دخبرو آداب زده نه کړو، دتفاهم دروازې به دتل لپاره تړلې وي، دهمکارۍ پلونه به ونړېږي، داړيکو لارې به له منځه ولاړې شي او زموږ پاي به دهر ويشل شوي قوم او هر پاشل شوي ملت پاي او دناکامۍ او ناچارۍ دوام وي. دخبرو اترو آداب يعني دخپلو احساساتو په کابو کولو سره دهغو دتوندوالي او کرکجنوالي کمول او په ادب سمبالول دي.

ادب يوه درنه او له برمه ډکه کلمه ده چي دانسانيت او حيوانيت تر منځ پوله جوړوي او دانسان دروح او روان پوخوالي ښيي .ادب له کوره تر بازاره او له جوماته تر ښوونځي پورې په هرځاي کې ارزښت لري، خو کله چي درسنيو او ټولنيزو شبکو وار راځي، ارزښت يې دوه چنده کېږي. ادب له ټولو ډير دخبرو کولو پر مهال څرګندېږي؛ دغږېدا په برخه کې خبرې بايدمانا ولري، ښې او ګټورې وي. که دچا دخبرو کولو آداب نه وي زده، دخبرو کولو له ښو لارو چارو سره عادت نه وي او دخبرو لپاره پاکه او ښه ژبه غوره نه کړي، هغه هم له هغو کسانو سره چي په پام کې ده، ديوې لارې لارويان او ملګري وي. دمولانا په شعر کې يې ښه بېلګه وړاندې شوې.

**بي‌ادب تنها نه خودرا داشت بد**
**بلکه آتش در همه آفاق زد**

**راځئ! چې اوس دخبرو کولو پر ادابو وغږېږو...**

انسان( بالخصوص مومن انسان) بايدتل مستقيمي او رښتيا خبري وکړي. موږ بايدتل رښتيا خبري وکړو. خبري اترې بايدرښتيا وي، مستقيمي ددوکې/چم او فريب څخه پاکې وي. ددې لپاره راځئ دقرآنکريم دوو مبارکو آيتونو ته رجوع وکړو:ژباړه:- اې مومنانو! له الله ج څخه وېرېږئ او همېشه رښتيني خبري کوئ. (سورة الاحزاب، ۷۰ نمبر آيت)

ژباړه:- او تاسي په حق باندي دباطل جامه مه آغوندئ، حق مه پټوئ او تاسي پوهېږئ. (سورة البقره، آيت نمبر ۴۲ ) په لومړي ايت کي الله ج راته درښتينو خبرو کولو امر کړيدئ. او په دويم آيت کي يې راڅخه غوښتي چي په حق دباطل او په باطلو دحق جامه وا نه غوندو( يو-بل سره ګډ نه کړو، بلکي تر مينځ يې تفکيک وکړو) ولي چي الله ج راته وايي و انتم تعلمون، يعني؛ موږ پوهيږو. ځکه الله ج عقل-شعور راکړيدئ، چي په مرسته يې بايدتل دحق او باطل تر مينځ تفکيک( فرق) وکړو.

انسان بايديوازي نيکي او ښې خبري وکړي.

اسلام موږ پر نيکو او ښو خبرو باندي امر کوي. دحوالې لپاره راځئ چي دقرآنکريم لاندي مبارک آيتونه تفسير کړو.

ژباړه:- او زما بنده ګانو ( مومنانو) ته ووايه چي دوي دي همېشه نيکي خبري کوي. (سورة الاسراء، ۵۳ نمبر آيت)

عبدپه مانا دبنده دئ او بنده وايي هغه کس ته چي دالله ج ټول اوامر پر ځان باندي مني او پوره – پوره مطابعت يې کوي. نو په دې آيت کريمه کي الله ﷻ مومنان مکلف ګرځولي دي، مشرکين نه! کنه په عموم کي خو ټول انسانان دالله ج خلق راځي. ولي چي په بل آيت کريمه کي الله ج فرمايي چي ټول انسانان يې ديوه نارينه( آدم ع) او يوي ښځينه( حوا رض) څخه پيداکړيدي. نو په مجموعي ډول خو ټول انسانان دالله ج خلق دئ، ليکن دبنده څخه مرادپه يادآيت کريمه کي مومن انسان دئ- چي دالله ج اوامرو ته پوره تسليم وي. مشرک او غير مومن انسان خو دسره دالله ج قرآن مني نه!. ددې موضوع په تړاو يو حديث شريف هم داسي وايي:

دابو هُريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دئ، دي چي وايي چي نبي کريم ﷺ ارشادوفرمايل:" يوه ښه، دوستانه او نيکه خبره؛ صدقه ده. "(کتاب الآداب، صحيح البخاري )

نو معلومه سوه چي الله ج موږ مومنان پر نيکو او ښو خبرو کولو مکلف ګرځولي يو او ياده دي وي چي نيکي اوښې خبري بايدله هرچا سره وکړو- هغه که مومن وي او که مشرک. ځکه الله ج بل ځاي فرمايي: ژباړه:- او تاسي خلکو/ انسانانو ته نيکي او ښې خبري کوئ. (سورة البقره ۸۳ نمبر ايت)

ګورو چي په ايت شريف کي الله ج انسانان يادکړيدي نه يوازي مومنان! يعني؛ له ټولو انسانانو سره بايدنيک رفتار-سلوک وکړل سي. نو هر کس پر نيکو او ښو خبرو کولو مکلف دئ، که څه هم ويناوال قاضي وي او مخاطب يې مجرم وي- بيا هم قاضي ته لازمه ده چي په فصيحه او پسته ژبه دمجرم سره خبري وکړي.

انسان ته لازمه ده چي په کښته اواز خبري وکړي!.

ژباړه:- په تګ کي معتدل اوسه (ميانه روي کوه) او خپل ږغ دي کښته کړه. په رښتيا سره چي بدترين داوازونو څخه دمرکب(خره) اواز دئ. (سورة لقمان، ۱۹ نمبر آيت)

دخلکو سره په رفتار و عملکرد(سلوک) کي برابر( ميانه رو) اوسه او پر خلکو دي اواز مه پورته کوه( دخبرو کيفيت-څرنګوالي دي لوړ کړه) په رښتيا چي بدترين داوازونو دمرکب( خره) اواز دئ. يعني؛ دا چي په خبرو اترو کي ددې پر ځاي چي خپل اواز لوړ کړو(بې ارزښته، بې اهميته او بې منطقه بحث وکړو)، بايددخپلو خبرو څرنګوالي او کيفيت لوړ کړو. او الله ﷻ لوړ اواز( بې کيفيته خبري) دخره( چي تر ټولو بداواز دئ) سره يادکړيدئ.

يو فلسفه پوه هم وايي چي موږ بايدداواز پر ځاي دخبرو څرنګوالي او کيفيت لوړ کړو(عاجزي غوره کړو- دخبرو طرز سم کړو)، ځکه باران دئ چي ګُلان را شنه کوي، نه تالنده. و موليدل چي موږ دخبرو پر طرز-ډول سمولو باندي مکلف سوي يو- نه داواز پر لوړوالي او بيځايه/بې بنسټه خبرو کولو باندي.

انسان بايدپه اللغو ( چټي، بېځايه بې ارزښته، عبث، باطل-بې اساسه خبرو) کي برخه وانخلي!.

په قرانکريم کي الله ﷻ زموږ څخه غواړي چي په عبثو، چټي، بې اساسه، باطلو او بيکاره خبرو اترو کي برخه وانخلو. دحوالې لپاره لاندي دوه آيتونه را اخلو:

ژباړه:- يقيناً هغه مومنان بريالي دي؛ څوک چي په پوره خشوع(عاجزۍ) سره لمونځونه قايموي او هغوي څوک چي داللغو ( چټي، عبث، باطل، درواغ او بيکاره خبرو-اترو) څخه مخ اړوي (برخه نه پکښې اخلي). (سورة المومنون. ۱،۲،۳ آيتونه)

ژباړه:- او هغوي چي هرکله اللغو فحش، غيبت، بې ارزښته او بې بنياده خبري) واوري، دوي ورڅخه مخ واړوي او په عين حال کي ووايي،" زموږ دپاره زموږ اعمال، ستاسي لپاره ستاسو اعمال. موږ دجاهلينو غوښتونکي نه يو( نه غواړو چي دجاهلينو سره خبري اتري وکړو) " .( سورة القصص، ۵۵ نمبر آيت)..

و موليدل چي الله ﷻ دبرياليو مومنانو دنيکو خصلتونو په کتار کي يو هم نيکي او ښې خبري راوستلي دي. يعني؛ هر مومن انسان بايدچي تل نيکي او ښې خبري وکړي- دبدو او بې ارزښته خبرو اترو څخه ځان وژغوري او دجاهلينو دوستي او ملګريتوب غوره نکړي. او هم الله ج په پوره عاجزۍ سره لمونځ دمومنانو دبرياليتوب لپاره غوره عمل بللي دئ. دا ځکه چي الله ج دخپل سکون بخښونکي کلام په بل آيت شريف کي ارشادفرمايي:

بيشکه لمونځ انسان له فحش او منکر څخه منع کوي. ولي دا هغه وخت چي انسان او بيا بالخصوص مومن انسان دلمانځه په مفهوم او تفسير وپوهيږي- عادت يې ونه ګرځوي، بلکي په فرضيت يې ځان وپوهوي او په هغې طريقه يې اداء کړي په کومه چي الله ﷻ ته دقبول وړ وي. مګر، متاسفانه چي نن ورځ موږ نه يوازي لمونځ، بلکي دين او ديني احکام-شعاير مو تر ډېره عادت ګرځولي، په فرضيت يې ټکي هم نه پوهيږو! ولي بيا هم ځانونه تر ټولو ښه او الله ﷻ ته نږدې بولو! مسلمانانو ورښو ! راځئ چي ځانونه له ميراثي دين څخه شعوري دين ته را وباسو- ددين په اصليت، ماهيت او حقانيت پوره-پوره ځانونه وپوهوو او بيا پرې عمل وکړو. هو! راځئ له همدې لحظې څخه له خپل رب سره ددين پوهنې تعهداو ژمنه وکړو.

انسان ته نه ښايي چي خلک تمسخر کړي( په لنډو او نيمو نومونو سره) ديوه کس تمسخرول، نن ورځ يوه عادي خبره ګرځېدلې ده او تر ډېره هر يو زموږ څخه پر دې بدعمل اخته دئ. اکثره مجالس چي جوړيږي، نو يو نفر راو نيسي او پسخندو ريشخندپرې وهي او يا هم اکثره مجالس داسي جوړيږي، چي دوي ډلې سي بيا نو يوه پر بلې مسخرې کوي. يو-بل په حقيرو نومونو يادول، نن ورځ ډېر عادي سويدي. قرآن ددغه ډول کړنو پر وړاندې ډېر څرګنداو دقيق دئ. راسئ چي وګورو متعال څښتن مو په دې اړه څه ارشادراته لري:

ژباړه:- اې هغو کسانو چي ايمان مو راوړيدئ( مومنانو!) ستاسي څخه دې يوه ټولۍ بله نه تمسخر کوي، ولي کيداي سي چي وروستۍ يوه له مخکينۍ يوې غوره او بهتره وي. او نه دې هم ځيني له ښځو څخه نوري دخندا کوي( تمسخر کوي) ولي کيداي سي چي وروستۍ له مخکينۍ هغو بهترې او نيکو کارې وي. مه هم يو-بل توهينوئ او مه يو-بل ته په نيمو او پسخندي الفاظو خطاب کوئ. څومره بده ده چي دخپلې عقيدې ورور دې توهين کړل سي- په بدو او زشتو الفاظو دې خطاب کړل سي. او که څوک توبه ونه باسي؛ په حقيقت کي همدا خلک له ظالمانو څخه دي. (سورة الحجرات، ۱۱ نمبر آيت)

له پورته آيت شريف څخه په ښکاره معلوميږي چي قرآن ديوه انسان دتحقير او توهين په اړه ډېر څرګنددئ. قرآن په ښکاره راته وايي چي تاسي يو-بل ته په بدو او نيمګړيو الفاظو خطاب مه کوئ او دا عمل نن ورځ زموږ په ټولنه کي ډېر عام ګرځېدلي دئ. تر ډېره مو ځوانان داسي مجالس جوړوي او يا دنورو په هغو کي برخه اخلي، دکومو څخه چي بغير له فحش، غيبت، فضول او بيکاره خبرو بل څه لاس ته نه ورځي او دوي پرې خپل ارزښتمن وخت ضايع کوي. په داسي حال کي حال چي وخت ډېر ارزښتمن دئ او الله ج په ايت شريف کي په وخت سره قسم يادوي( والعصر ان الانسان لفي خسر... الخ) او وايي چي انسان په تاوان کي دئ، مګر هغه کسان چي نيک اعمال کوي او يو-بل ته پر صبر او حق توصيه او سپارښتنه کوي. مګر موږ دالله ﷻ ددې امر څخه ځانونه غافله اچولي دي او خپل ارزښتمن وخت( چي دالله ج يو له غوره نعمتونو څخه دئ) ضايع کوو. دا مو هېر کړيدي چي الله ج به په ورځ دميزان راڅخه دخپلو نعمتونو پوښتنه کويژباړه:- چي په هغه ورځ به دټولو دنيوي نعمتونو څخه پوښتنه وکړل سي. (التکاثر)او يوه بله خبره هم اړينه بولم، هغه دا چي زموږ خلک اکثره نن- سبا په نيمچه او پسخندي الفاظو يو-بل ته خطاب کوي، دبېلګي په ډول: ديوه کس نوم سلطان محمددئ او موږ يې په سلطان بولو! آه سلطانه! يا ديوه کس نوم محمدالله دئ، خلک ورته په محمدوايي، اې محمده! او کله کله خوېي تلفظ هم غلطوي. دمحمدپر ځاي، ممدوايي. . نو زمونږ کوشش بايدداوي چي نوم بايدپه مکمله توګه واخلو.

تنبيه:- يوه تنبيه بايدموجوده وي، هغه دا چي نن ورځ په اکثرو ټولنو کي تخلص يا کورني نوم کاريږي. دا ډېر ښه عمل دئ. ولي چي تخلص ديوه کس يا کورنۍ دبشپړ احترام په مانا کاريږي.مثلاًمبارزصاحب،مدني صاحب،روحاني صاحب، سپېڅلي صاحب، رشادصاحب... نو دلته هم که تخلص دکورنۍ دنوم څخه مشتق وي؛ ډېر به ښه وي.

انسان ته نه ښايي چي په غونډو او مجالسو کي شخصي خبري وکړي( پسپسي وکړي)!.

يو بل غلط عمل چي نن ورځ په اکثره مجالسو او غونډو کي ترسره کيږي، دا دئ چي اکثره کسان په مجالسو کي په ډېر کښته اواز(پسپسي سره) ديو-بل سره خبري کوي. موږ دا ډېره عادي خبره فرض کړېده. پداسي حال کي چي دا ښه عمل نه دئ او اسلام په دې اړه هم موږ ته ډېر څرګنداو دقيق دئ. راځئ چي دپوهېدا لپاره يې دا حديث شريف ولولو او يادې کړو: عبدالله ابن عمر رض روايت کوي، دي وايي چي رسول اقدس ﷺ وويل: که چيري تاسي درې کسان ياست، دوه په خپلو کي مه ږغيږئ( داسي مانا لري لکه تاسي چي ددرېيم کس په اړه خبري کوئ، که څه هم تاسي به يې نه کوئ) ترهغو چي ستاسي په مجلس کي نورو خلکو برخه نه وي اخيستې( نه وي درسره يو ځاي سوي) ځکه دا کيداي سي دده دخفګان سبب سي. (رواه البخاري والمسلم، کتاب السلام، ۲۶۹۶ نمبر حديث)

۷-خبرې اترې تل په نرمه لهجه کول په کار دي، وايي، چي الله ﷻ په ژبه کې ځکه هډوکي نه دي پيدا کړي، چي دا نرمه وي او نرمې خبرې پرې وشي. يو عالم او مشر سړي په يوه ځوان دومره غوسه شو، چې هغه ته يې بدې او سختې خبرې وکړئ. هغه ځوان ورته وويل: (( ښاغليه! تاسو زما دکوتاهۍ( نيمګړتيا) په وجه له ماسره نرمي وکړئ، زه نه له فرعون څخه بديم او نه ته له موسي عليه السلام څخه بهتره او ښه يې.))

الله موسي عليه السلام دفرعون خواته ور ولېږه او ورته ويې فرمايل: (( ته له هغه سره په نرمۍ خبرې وکړه.))

۸-الله چې په نرمي باندې څومره خوښېږي، هغومره په سختۍ نه خوښېږي.

۹- داسې خبره وکړئ، چې يا مو په کې خپله ګټه وي، يا دبل ګټه وي او يا دټولې ټولنې ګټه وي، دالله مبارکه وينا ده: (( خلکو سره ښې خبرې وکړئ.))

۱۰- داسې خبره بايدونه شي، چې په هغې کې پېغور وي او يا يې بل واوري، نو ځان ورته کم ښکاره شي.

۱۱- خبره بايدتل رښتيا او حقيقت وويل شي، که ډېر خلک ددې خبرې خيال وساتي، نو دخلکو تر منځ به جنګونه او جګړې کمې شي. دالله ﷻ مبارکه وينا ده، چې مفهوم يې داسې دي: (( اې دايمان لرونکو! له الله ﷻ څخه ووېرېږئ او رښتيا خبره وکړئ، الله ﷻ به ستاسو کارونه سم کړي او ستاسو ګناهونه به وبښي.

۱۲- ښه او نرمه خبره کول دصدقې هومره اجر لري.

۱۳- دبې ځايه خبرو څخه ځان ساتنه دلويي او درناوي ښکارندوي ده. انسان چې څه وايي، پرښتې په هغې شاهدې او مقررې وي.

۱۴- په يوه حديث شريف کې راځي: (( څوک چې په الله او دآخرت په ورځ ايمان ولري، هغه ته په کار دي، چې ښه خبره وکړي، که نه نو غلي دې شي.

۱۵- ځيني وخت په يوه خبره الله تر قيامته له انسان څخه خوښېږي او کله نا کله په يوه خبره تر قيامته ناراضه وي.

۱۶- نبي کريم به ځينې وخت دخلکو دپوهولو لپاره خبرې درې ځله تکرارولې درسول اکرم خبرې به بالکل ښکاره او واضح وې، چې هر اورېدونکي به پرې پوهېده.

۱۷- خبرې تل لنډې او واضح کول په کار دي، چې په اورېدونکي بوج( بار) نه شي.

۱۸- خبرې بايدمقابل لورې له سويې سره برابرې وي دداسې لغاتو او الفاظو کارول پکار نه دي چې اورېدونکي نه ورباندې پوهيږي .

۱۹- بې ضرورته دخبرې اوږدول په کار نه دي .

۲۰- دبل په خبره کې ور ګډېدل نه دي پکار کله چې دهغه خبره خلاصه شي خپله خبره کول پکار دي

### پايله

دوستانو! وموليدل چې اسلام او قرآن څومره زموږ او ستاسي دخبرو اترو-مجالسو او محفلونو جوړولو په اړه څرګنداو دقيق دئ. بلې دالله ﷻ دقرآن دڅو آيتونو دلنډې ترجمې او تفسير څخه موږ ته دا معلومه سوه چې دخبرو اترو -مجالسو څومره پراخ آداب دي. نو راځئ چې هر يو يې له خپل ځان څخه راپيل کړو، هنداره مخ ته ونيسو او وګورو چې موږ چيرې ولاړ يو او څه کوو؟

يوازيني څيز چې موږ يې کيداي سي ووينو، هغه به دا وي، موږ به ووينو او متوجه به سو چې موږ دژوندپه هره برخه کې د الله ج نافرماني کوو او موږ په دې هم عقيده لرو، کوم کس چې دالله ج نافرماني کوي؛ هغه ته فاسق ويل کيږي. نو بيا موږ څنګه هيله ولرلاي سو چې موږ دې په ورځ دميزان کامياب او بريالي يو؟ راځئ چې هر يو (نارينه- ښځينه) په دې خپل ګرېوان کي وګورو او همدا سوال له ځانو څخه وکړو.

الله ج دې ماته عفوه وکړي که به زه غلط يم او پر نيغي او مستقيمي لارې دې مې الله ﷻ هدايت کړي.

**آمين نور بيا ان شاء الله ...**



# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئيس : م محمد ابراهيم نبيل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدير : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: ۰۲۰-۲۵۲۶۳۱۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹

پنجشنبه د صفر المظفر ۲۹ مه ۱۴۴۵ ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د وږي ۲۳ مه د 2023 م کال د سپټمبر 14 مه


## يو چينايي شرکت غواړي د برښنا انرژۍ د توليد برخه کې پانګونه وکړي



د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست ملا عبداللطيف منصور د چين د ((چيندو)) شرکت او د هريرود ودانيز شرکت له استازو سره وکتل.د اوبو او انرژۍ وزارت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې، د يادو شرکتونو استازو په افغانستان کې د برښنا انرژۍ د توليد په پروژو کې د پانګونې لپاره لېواليا ښودلې ده.د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست د شرکتونو د پانګونې د لېواليا ستاينه کړې او د وزارت تخنيکي ټيم ته يې دنده سپارلې چې د دغو شرکتونو له تخنيکي ټيم سره په ګډه د لمريزې برښنا د توليد د پانګونې چارې ژر تر ژره پيل کړي. منصور همدا رنګه، د پانګونې د چارو پر چټکتيا او د عملي چارو پر پيل ټينګار کړی دی.

## اترا اداره: افغانستان د نوري فايبر له لارې منځنۍ اسيا له اروپا سره نښلوي

د اترا اداره وايي چې افغانستان به د نوري فايبر شبکې له لارې منځنۍ آسيا له جنوبي آسيا او بيا له ختيځې اروپا سره ونښلوي.د کابل - مزارشريف او مزارشريف هرات ترمنځ د نوري فايبر د پروژې کار ،چې اتلس مياشتې وړاندې پيل شوی و، بشپړ او د دغې پروژې د پرانيستلو خبر ورکړل شو.د اترا ادارې تخنيکي مرستيال عطاء محمد يار د دې پروژې د پرانيستې پر مهال وويل، چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به د معلوماتو په کيفيت او د هغې په بيه کې د پام وړ بدلون راشي.يار يادونه وکړه، چې د دې پروژې له لارې به منځنۍ اسيا له سوېلي آسيا او بيا له ختيځې اروپا سره ونښلول شي. نوموړې د افغان بېسيم مخابراتي شرکت د ستاينې... ۷مخ

## د صنعت او سوداګرۍ وزارت معين: سياست بايد پر تجارت منفي اغېزه ونلري

د صنعت او سوداګرۍ وزارت معين مولوي قدرت الله جمال پرون د ايران له يو شمېر صنعتکارانو سره وکتل. په دې کتنه کې د ايران د صنعتکارانو او سوداګرو پلاوي چې مشري يې ښاغلي ساقي کوله؛ په افغانستان کې پانګونې ته لېواليا وښووده او د اسلامي امارت له خوا يې رامنځته شوې اسانتياوې غوره وبللې. دغه راز مولوي جمال، د ګاونډي هېواد په توګه د افغانستان او ايران سوداګريزې اړيکې ارزښتمنې وبللې او پر پياوړتيا يې ټينګار کړی دی.هغه څرګنده کړه ،چې سياست بايد پر سوداګرۍ منفي اغېزه ونلري او سوداګريزه راکړه ورکړه بايد عادي وساتل شي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت معين، په هېواد کې د بهرنيو سوداګرو لپاره د پانګونې له رامنځته شويو فرصتونو هم يادونه کړې ده.

## د سوډان د پوځ مشر د مرستې غوښتلو لپاره ترکيې ته ځي



په داسې حال کې چې د سوډان د پلازمېنې خرطوم په ګډون د دې هېواد په ګڼو سيمو کې د پوځ او د چټک غبرګون د ځواکونو ترمنځ لا هم خونړۍ نښتې رواني دي سوډاني چارواکو خبر ورکړی، چې د پوځ مشر او چارسمبالي ولسمشر جنرال ((عبدالفتاح البرهان)) له ولسمشر اردغان څخه د مرستې غوښتلو لپاره ترکيې ته ځي. يوې سرچينې سکای نيوز عربي ته ويلي ، چې جنرال عبدالفتاح البرهان به د دې سفر په ترڅ کې د ترکيې له ولسمشر ((رجب طيب اردوغان)) او... ۷مخ

## هرات کې د برښنا برابرولو لپاره له لمريزو درو د خلکو استفاده زياته شوې

د هرات يو شمېر اوسېدونکي وايي، چې د دې ولايت مرکز او ولسواليو کې د کورونو، هټيو، سوداګريزو مرکزونو او د کرنيزو ځمکو د خړوبولو لپاره له لمريزو درو د خلکو استفاده زياته شوې.د دې ولايت د اوسېدونکو په وينا: د برښنا پرچاوۍ ډېرېدو او د تېلو لوړو بيو اړ کړي ، چې له لمريزې برښنا کار واخلي.د هرات ښار يوه اوسېدونکي بسم‌الله نوري وويل: (( لمريزې درې زموږ اړتياوې په سمه توګه برابروي، پخوا د برښنا ماشين لاره او روښانه کاوه به مو چې لوړ غږ به يې کاوه او چاپېريال يې هم... ۷مخ



## ننګرهار کې سلګونه ځوانان له حرفوي زده کړو فارغ شول

د ننګرهار دکار او ټولنيزو چارو رياست په همغږۍ د يوې مرستندويې موسسې په همکارۍ ۷۸۰ کسان په بېلابېلو برخو کې له شپږ مياشتنيو مسلکي او حرفوي زده کړو فارغ شول.نوي فارغ شوي ځوانان له دې چارې خوښ دي او په خبره يې، مخکې بېروزګاره وو او اوس يې چې حرفوي زده کړې ترلاسه کړې، د کار کولو زمينه هم ورته برابره شوه. له حرفوي زده کړو فارغ شوي يو تن وايي: (( موږ د غالۍ اوبدلو زده کړه ترلاسه کړې، په دې ... ۷مخ

## په لېبيا کې سېلابونو ۲۰۰۰۰ تنو ته مرګ ژوبله اړولې

له لېبيا ورکړل شوي راپورونه وايي، چې د سختو سېلابونو او توپانونو له امله ۵۰۰۰ کسان مړه شوي او ۱۵۰۰۰ نور لادر شوي دي. د trt عربي څانګې د خبر له مخې د «ډينيل» توپان او سيلاب له امله د ليبيا ختيځ اغيزمن شوي دي په درنا، بنغازي، سوسي، المرج او بيدا کې لاهم توپان، باران او سيلابونونه دوام لري.د ليبيا د رسنيو د راپورونو له مخې، په سيلابونو... ۷مخ



## شمال ته پر بديلو لارو د موټر چلوونکو ستونزې

د سالنګ لويه لاره د بيارغونې په هدف د هر ډول ټګ راټګ پر مخ تړل شوې، خو خلک هڅه کوي چې د سالنګ پرځای د شيبر کوتل او يا هم د خاواک له لارې کابل او نورو ولايتونو ته سفر وکړي.



پر دې لارو سفر له ګواښ نه خالي نه وي.اوسمهال د شمالي ولايتونو اوسېدونکي د سفر پرمهال د شيبر کوتل او خاواک له لارې کابل او يادو ولايتونو ته ټګ راټګ کوي ،چې له سختو ستونزو او ترافيکي پېښو سره مخ کېږي.په تازه پېښه کې له بدخشان څخه کابل ته پر لاره يو هايلکس موټر د اندراب او خاواک پر لاره ترافيکي پېښه کړې چې په پايله کې يې مرګ ژوبله رامنځته شوې ده.فايق يونسي ،چې په دې پېښه کې يې د کورنۍ يو غړي او درې نور کسان وژل شوي، داسې وايي: (( له بدخشانه يوه هايلکس موټر د اندراب او خاواک له لارې کابل ته را روان و چې په لاره کې يوې لويې درې... ۷مخ

## په ترکيه کې د ناقانونه کډوالو نيول دوام لري

د ترکيې امنيتي ځواکونو خبر ورکړی، چې د افغان اتباعو په ګډون يې ۱۲۲ تنه غير قانوني پناه غوښتونکي په داسې حال کې نيولي چې غوښتل يې په غير قانوني توګه سفر وکړي.د اناتوليا خبري آژانس اعلان کړی چې دغه پناه غوښتونکي د ترکيې له پولو څخه په ادرين ولايت کې د عملياتو په ترڅ کې پېژندل شوي او نيول شوي دي. د دغه ريوټ له مخې دغه کسان د افغانستان،سوريې... ۷مخ

## هېواد ته راغلي کډوال کورونه غواړي

افغان کډوال هم وايي: هېواد ته له راستنېدو وروسته له ستونزو سره مخ دي، په کرايي کورونو کې ژوند کوي او تر اوسه ورسره لازمه مرسته نه ده شوې.هغوی له حکومت او مرستندويو موسسو څخه غواړي، چې د اوسېدو ځايونو په پيدا کېدو او نورو اړينو توکو په برابرېدو او غذايي توکو مرسته وشي.)) بل افغان کډوال الله نظر هم وايي: د کور ورکړې فورمې يې څو کاله وړاندې ډکې کړې او قانوني پيسې يې هم ورکړې، خو تر اوسه د اوسېدو لپاره کور نه دی ورکړل شوی. (( يوازې زه نه، بلکې داسې ډېر کډوال راغلي او په ننګرهار کې



کي ورسره مرسته وکړي.حکمت الله، چې تازه د پاکستان له کوېټې ښار څخه هېواد ته راګرځېدلی، خپلې ستونزې داسې بيانوي: ((دوې مياشتې کېږي چې کندهار ته راغلي يو، خو تر اوسه زموږ د ستونزو په اړه چا پوښتنه نه ده کړې. له موږ سره دې د اوسېدو ځای په پيدا کېدو بې برخليکه ژوند کوي. له موږ سره زموږ بچيان هم د خښتو په بټيو کې کار کوي.))دا په داسې حال کې ده چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت تېره اوونۍ له ايران او پاکستانه د څه باندې دوه زره افغان کډوالو د راستنېدو خبر ورکړی و.

## ۱۴ ټانکره بې کيفيته تېل بېرته ايران ته ګرځول شوي

د نورم او ستېنډرډ ملي ادارې ويلي چې ورمه ورځ ناوخته يې ايران ته د تېلو ۱۴ د ټيټ کيفيت لرونکو تېلوبار ټانکرونه بېرته ګرځولي دي. د افغانستان د نورم او ستېنډرډ ادارې د خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي چې ياد ټانکرونه يې له فراه څخه ايران ته مسترد کړي دي. د نورم او ستندرډ ملي ادارې ټينګار کړې چې هېواد ته د ټيټ کيفيت تېلو د واردولو مخنيوي په هدف يې خپلې هڅې ګړندۍ کړې دي. ياده دې وي چې پرون هم يو واګون بې کيفيته تېل بېرته ايران ته مسترد شوي دي.


## اعلان وزارت اطلاعات و فرهنگ

بدينوسيله به تاسی از فقره ۲ ماده ۴۳ قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانيده ميشود وزارت اطلاعات و فرهنگ در نظر دارد قرار داد . پروژه ترميم اساسی حوض احمد شاهی سپين بولدک ولايت کندهار با کود نمبر RCB / 1402 //4-G/MOIC را به شرکت ساختمانی ارشاد خالص دارای جواز نمبر (D-۳۱۶۰۲ ) را به قيمت مجموعی مبلغ / ۷۱۴۰۲۵۰ ) هفت ميليون ويکصدو چهل هزار و دوصدو پنجاه افغانی اعطا نمايند. اشخاص حقيقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمينه داشته باشند ميتوانند اعتراض خويش را از تاريخ نشر اعلان الی ۷ روز تقويمی طور کتبی توام با دلايل آن به ميعينيت گرځندوی مالی و اداری آمريت تدارکات واقع چهار راهی ملک اصغر مقابل وزارت امور خارجه وزارت اطلاعات و فرهنگ وفق احکام ماده پنجاه قانون تدارکات ارائه نمايند. اين اطلاعيه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکميل ميعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی قرار داد منعقد نخواهد شد.